د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست
د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱/ جمادی الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۴ /قوس /۱۴۰۲هـ، ش۱

# په اسلام کې د ژوندانه د چاپيريال ساتنې ضرورت او په اړه يې تأکيدات

الحمد لله ربِّ العالمين أنعم علينا بنعمة الأمن في الأوطان والصحة في الأبدان، ورزقنا جل وعلا من غير حول لنا ولا قوة، بل بفضله وكرمه وهو الكريم المنان، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله،، صلى الله عليه وعلى أله وصحبه والتابعين له بإحسان،وسلم تسليماً كثيرا.

قـال الله ســبحانه وتعالى: {وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا.أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا. وَالْجِبَالَ أَرْسَـاهَا. مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ} النازعات:۳۰-۳۳

وقال عزوجل: {وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا} الاعراف: ۵۶

د ژوندانه د اوسيدو هغه ځای چې ژوندي او غير ژوندي عناصر ولري ، د ژوندانه چاپيريال ورته ويل کيږي.

په يو بل عبارت سره د ژوند چاپيريال هرهغه څه چې دانسان شاوخوا کې موجوددي او په صحت باندې تاثير لري، چې کلي، بازار، سـړک، سـيندونو، نهرونو، غرونو، دښـتو ته شامليږي بلکې هرهغه څه ته شامليږي چې انسان ورته ضرورت لري لکه خوراک، څښاک، لباس او نور کيمياوي او جوي عوامل.

همدا راز هغه څه چې زموږ يې احاطه کړې يو او هغه څه چې زموږ اغېز ورباندې کوو او يا زمونږ ورځخه اغېزمن کيږو زموږ چاپيريال تشـکيلوي، لکه ژوندي موجودات، ژوي او بوټي، مايکرسـکوپي موجودات او غير ژوندي لکه غرونه، دريابونه، ځنګلونه او داسي نور.

د ژوندانه چاپيريال زيات عناصر لري لکه خاوره، هواء، اوبه ، حيوانات، ونې او بوټي او شنې ګياوې چې مهم يې درې دي شيان دي اوبه ، هوا او خاوره.

لکه څرنګه چې مونږ د ژوندي پاتې کيدو لپاره خوړو ته ضرورت لرو دارنګه اوبو، هوا او خاورې ته هم ضرورت لرو، د همدې امله داسـلام مبارک دين د ژوندانه چاپيريال سـاتنه او دهغې حفاظت ضرور او حتمي ګڼي ترڅو انسانان، حيوانات او نورو ژوندي ژويو ژوند د مرګ له خطر سره مخ نشي.

د انسـانانو، حیواناتو، مرغانو ، فصـلونو او شنو ګیاوو ژوند په روغ او سالم چاپیریال پورې تړلی دی او د چاپیریال ککړتیا د انسان او نورو ژوندیو ژوو ژوند په مرګ سره ګواښي.

په اسلام کې د ژوندانه د چاپیریال ساتنه یو واجبي کار دی ، ځکه چې په روغ او سالم چاپیریال پورې ژوند تړلی دی او د اسلام مبارک دین وایې چې(ما لا یتم الواجب الا به فهو واجب). هر هغه شی چې واجب پرته له هغې نه پوره کیږي هغه شی واجب دی.

د ژوندانه دچاپیریال مهم دری عناصر چې ساتنه یې حتمي او لازم دي په لاندې ډول دي:

۱-خاوره :

خاوره چې د ځمکې د اجزاوو ترکیب دی د ژوندانه دچاپیریال مهم عنصر دی. په اسلام کې یواځې خاوره دانسان لپاره ضرور نه ده بلکې ټوله ځمکه داسلام مبارک دین د ژوند لپاره اړینه بللی ده او دټولې ځمکې حفاظت او سلامتیایې مهمه ګڼلې ده. الله تعالی ځمکه او خاوره دانسان د فائدې لپاره پیداکړی ده چې دا دالله تعالی لوی نعمت دی او ددې شکر ویستل په دې کې دی چې خاوره او ځمکه فاسـده نشي او انسان بې ددې څخه منع کړی دی چې ځمکه او خاوره فاسده کړي. الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا * أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا * وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا * مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ} النازعات: ۳۰ – ۳۳.

ترجمه: او ځمکه یې له ده نه وروسـته غوړولی ده. له دغه ځمکې نه ددې اوبه او ددی واښـه راویسـتلي دي او غرونو لره دغه(الله) محکمه کړی دي ستاسو او ستاسو څارویو د فائدې لپاره.

الله تعالی فرمایلي دي: {وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا} الاعراف: ۵۶

ترجمه: او فساد مه کوئ په ځمکه کې وروسته د اصلاح د هغې.

الله تعالی ځمکه پیدا کړی ده او په ځمکه کې یې اوبه پیدا کړي دي او په ځمکه کې یې هواء پیدا کړی ده چې دا دری واړه د انسان حیوان او نورو ژوندیو ژوو د ژوند لپاره اړین دي.

ځمکه او فضاء عمومي ملکیتونه دي او هر ژوندی موجود حق لري چې په ځمکه کې د پرتو نعمتونو څخه ګټه واخلي نو پر انسان لازم دي چې عامه ملکیتونو ته زیان ونه رسوي.

داچې ځمکه او خاوره دانساني ژوندون لپاره مهمه ده ځکه په خاوره کې انسان فصلونه کري، میوه دار باغونه په کې کینوي او ددې لارې څخه غلې دانې تر لاسه کوي او قسماقسم میوي له باغونو څخه ترلاسه کوي ، نو ځکه اسلام د ځمکې او خاورې آبادول لازم ګڼي او دځمکې حفاظت او ساتنه حتمي بولي او خاورې ته هر ډول زیان رسول او یا هغه ککړول او فاسدول حرام ګڼي.

د خاورې او ځمکې ککړول او چټلول او په خاوره کې زهرجن کیمیاوي مواد او بمونه استعمالول لکه خارجیانو چې استعمالول، چې بیاد ژوند او کرکیلې څخه وځي، همدارنګه خاورې ته بې حاجته اوبه ور پریښودل چې بیا د زراعت صلاحیت نلري او یا د خـاورې څخه اوبه اړول یا چپول چې بیا خاوره بې حده وچه شي او د زراعت څخه ووځي ، همدا راز په خاوره او ځمکه کې چټلي او مرداري اچول چې د خلکو داستعمال څخه ووځي.

داځول هغه کارونه دي چې اسلامي شريعت ور څخه په فساد تعبير کوي، بالعکس داسلام د خاورې او ځمکې په آبادولو تأکيد کړی دی او د ځمکې او خاورې فاسدول چې په هر شکل وي غندلي او دا حرام کار بللی دی.

الله تعالی فرمايلي دي:{ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا} هود:٦١

ترجمه: هم هغه تاسو له ځمکې نه پيدا کړي يی او په دې يې تاسو وسولي يې.

امام ماوردي ددې آيت په تفسير کې ليکلي :(امركم بعمارة ما تحتاجون إليه فيها بناء مساكن وغرس أشجار) النكت والعيون ـ (٢/ ٤٧٩) الله تعالی درته امر کړی دی په آبادولو د هغه څه چې تاسو ورته اړتيا لرئ په ځمکه کې جوړول د سکونت دځايونو او کينول د ونو.

انسان په ځمکه کې ددری خبرو لپاره پيدا شوی دی: عبادت، عمارت او خلافت چې دعمارت او خلافت تقاضا دځمکې او خاورې ساتنه ده او په ځمکه کې اصلاح ده .

داچې د خاورې او ځمکې ساتنه په اسلام کې ضرور ده ، الله تعالی د هغه شخص قباحت بيان کړی دی چې په ځمکه کې فساد کوي او نسل او فصل بربادوي. { وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ} البقرة: ٢٠٥.

ترجمه: او کله چې بيرته وګرځي نو په ځمکه کې ګړندی ګرځي ددې لپاره چې په دې کې فساد وکړي او فصل او نسل تباه کړي حال داچې الله تعالی فساد نه خوښوي.

ددې آيت صراحت هرډول فساد په ځمکه کې حرام دی او فصلونه چې د سالم چاپيريال لپاره ډير ضرور دي هغه له منځه وړل ناوړه کړنه ده.

همدا راز الله تعالی فرمايلي دي: {كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ }البقرة: ٦٠

ترجمه: د الله له رزق نه خورئ او څښئ او په ځمکه کې له حد نه مه تيريږئ چې ورانی کوونکي اوسئ.

د ژوندانه د چاپيريال د ساتنې يوه وسيله په ځمکه کې زراعت کول دي، د ونو او بوټو کرل دي چې اسلام په دې برخه کې ځانګړې لارښوونې لري او دا کار د ژوند لپاره ضرورت بولي. په حديث شريف کې د ونې په کينولو تأکيد شوی دی. (إِنْ قَامَتِ السَّاعَةُ وَفِي يَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَلَا تَقُومَ حَتَّى يَغْرِسَهَا، فَلْيَغْرِسْهَا). مسند أحمد (٢٠/ ٢٥١)

ترجمه: که چيرې قيامت قائم شو او ستاسو ديو کس په لاس کې د خرما ونه وي ، نو که چيرې کولای شي چې د قيامت د راتلو پورې هغه نهاله کړي، نو نهاله دې کړي.

او بې فائدې يې د ونو د وهلو او قطع کولو څخه منع کړی ده ،ځکه چې دا کار د ژوندانه چاپيريال ته زيان رسوي.

(ولا تحرقن نخلا ، ولا تعقرها ، ولا تقطع شجرة مطعمة) سنن الإمام سعيد بن منصور (ص: ٣٢٦)

ترجمه: ابوبکر صدیق رضي الله عنه په غزوه مؤته کې یزیدبن ابي سفیان رضي الله عنه ته داسې نصیحت وکړ :او مه سیزه دخرما ونه (یا داچې مه سیزه د شاتو مچۍ ) او مه قطع کوه سر د خرما د ونې او مه قطع کوه میوه داره ونه.

دځمکې آبادول په اسلامي شریعت کې مطلوب عمل دی. په حدیث شریف کې راځي:( مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَلَهُ فِيهَا أَجْرٌ) مسند أحمد (٢٣/ ١٣٥)

ترجمه: چاچې شاړه ځمکه آباده کړه( په اذن دسلطان) ده لره په دې کې اجردی.

همدا راز د ژوندانه د چاپیریال د ساتنې له جملې څخه لارې ، کوڅې او سړکونه او دخلکو د ناستې او ولاړې ځایونه د چټلۍ او مرداری څخه پاک ساتل دي . شریعت پرهغو کسانو لعنت ویلی دی چې د خلکو سیورو او دونو لاندې قضای حاجت کوي؛ ځکه دا کار پاک چاپیریال ککړوي. په حدیث شریف کې راځي: :( اتَّقُوا اللاَّعِنَيْنِ. قالوا : وَمَا اللاَّعِنَانِ ؟ قَالَ : الَّذِي يَتَخَلَّى في طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ في ظِلِّهِمْ ) . رواه مسلم .

ترجمه: ځان وساتئ د هغه دوه کارونو څخه چې سبب د لعنت گرځي. صحابه کرامو وویل : هغه دوه کارونه چې سبب د لعنت گرځي هغه کوم دي؟ نبي علیه السلام وفرمایل: هغه کس چې متیازې کوي په لاره د خلکو کې او یا په سیورو د خلکو کې.

په یو حدیث شریف کې راځي :( اتَّقُوا الْمَلاَعِنَ الثَّلاَثَ الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَالظِّلِّ). سنن أبى داود (١/ ١١)

ترجمه: ځانونه وساتئ د درې لعنتي ځایونو څخه (یعنی هغه ځایونه چې له امله یې خلک لعنت وایی) ، غټې متیازې کول اوبو ته تلونکو لارو کې او متیازې کول په منځ د لار کې او لاندې د سیوري څخه .

په دې حدیث کې ټول هغه ځایونه ذکر شوي دي چې دانسانانو چاپیریال گنډل او دانسانانو په ژوند کې خورا رول لوبوي.

اوبه ته تلونکې لارې، سرکونه کوڅې او سیوري هغه ځایونه دي چې دانسانانو ژوند ورپورې تړلی دی او مونږ ته په کار دې چې هغه ځایونه پاک وساتو چې زمونږ چاپیریال گنډل کیږي. مسلمان لره نه ښایي چې د خلکو د سیوري په ځایونو او یا په لارو اویا د اوبو په گودرونو کې قضای حاجت وکړي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :طَهِّروا أَفْنِيَتَكُم فإن اليهود لا تطهر أفنيتها). جامع الأحاديث (١٤/ ١٢٩)

ترجمه: له سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: خپل کورونه پاک کړئ، بیشکه یهود خپل کورونه نه پاکوي.

دټولو هیوادوالو څخه هیله کیږي چې دخاورې او ځمکې دفساد او ککړتیا څخه ځانونه وساتي او ټول باید کوښښ وکړو چې د هرهغه کار څخه جدا ځانونه وساتو چې د ژوندانه دچاپیریال ککړ کړو.

۲-هوا:

د ژوندانه دچاپیریال دوهم مهم عنصر هوا ده.

هوا د ژوندي پاتې کیدو لپاره دومره مهمه او ضروري ده لکه د انسان په بدن کې روح، بلکې د روح بقاء هم په اکسیجن او پاکې هواء پورې تړلی دی.پرته له هوا ژوندي پاتې کیدل ناممکن دي .انسانان ، حیوانات، مرغان، حشرات او نباتات د هوا له برکته ژوند کوي.

د هوا د ضرورت او اهمیت په باره کې په قرآن کریم کې بې شمیره آیتونه راغلي دي.الله تعالی فرمایلي دي:{وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ}الحجر:۲۲

ترجمه: او مونږ هواګانې لیږلي دي چې بلاربه وونکي دي پس مونږ له بره اوبه نازلې کړی نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} الروم: (٤٦)

ترجمه: او دهغه (الله) له نښو څخې دادي چې هغه هواګانې رالیږلي چې زیری ورکوونکي دي او ددې لپاره په تاسو له خپل رحمته څخې (مزې) وڅکوي او ددې لپاره چې کشتۍ د هغه په حکم سره روانې شي او ددې لپاره چې تاسو د هغه له فضله ولټوئ او ددې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

پاکه هوا د الله تعالی د سترو نعمتونو څخه یو نعمت  او رحمت دی او هوا پاکه ساتل زمونږ دټولو مسئولیت دی ځکه چې د ژوندي موجوداتو ژوند ورپورې تړلی دی او د هوا ککړول د ټولو ژوندي موجوداتو په ژوند او حق باندې تیری کول دي.

حتی چې داسلام تأکیدي امر دی چې تاسو هوا ته کنځل مه کوئ .نبي علیه السلام فرمایي: ( لا تسبوا الريح . فإنها من روح الله تأتي بالرحمة والعذاب). سنن ابن ماجه (۲/ ۱۲۲۸)

ترجمه: تاسو کنځل مه کوئ هوا ته ،ځکه هوا  دالله تعالی رحمت دی راوړي رحمت دالله (باران) او عذاب د الله.

په یو بل حدیث کې شریف کې راځي: (لا تسبوا الريح فإذا رأيتم ما تكرهون فقولوا اللهم إنا نسألك من خير هذه الريح وخير ما فيها وخير ما أمرت به ونعوذ بك من شر هذه الريح وشر ما فيها وشر ما أمرت به). سنن الترمذي (٤/ ٥٢١)
ترجمه: تاسې کنځل مه کوئ هوا ته ، که چیرې تاسې داسې څه ووینې چې بد یې ګڼی نو داسې ووایې: ای الله! مونږ غواړو له تا څخه د دې هوا د خیر څخه او هغه خیر چې په دې هوا کې دی او مونږ پناه غواړو د شر ددې هوا او دهغه شر څخه چې په دې هوا کې دی او د شر دهغه څه چې تا په کې امر کړی دی.
هرکله چې د هوا کنځل جواز نلري نو د هوا ککړول او هغه زهرجن کول خو په طریق اولی سره حرام کار دی.
هوا چې د ژوندانه د چاپیریال مهم عنصر دی په شریعت کې ورته ضرر رسول خورا لویه ګناه ده.  په حدیث شریف کې راځي:

(لا ضرر ولا ضرار ). السنن الكبرى (٦/ ١٥٧)

ترجمه: نه ابتداءً ضرر رسول جائز دي او نه انتقاماً ضرر رسول جاېز دي.

د هوا ککړتیا په مختلفو لارو سره کیږي لکه د زهرجنو کیمیاوي موادو استعمال، په کورونو او کارخانو کې د ډبرو سکرو سیزل، د مستعملو نفطو سیزل، د زړو او له کاره لویدلو نقلیه وسایطو دو دونه او گردونه او دبی کیفیته تیلونه استفاده،او دمعیاري واټونو نه شتون او د روند ترافیک، د پلاستیکونو سیزل،په حمامونو او مرکز گرمیو کې د فتلرونو نه نسبول، خاورین طوفانونه، د ځنکلونو سیزل، د ضرري غازاتو څخه استفاده کول ، په یو ښار کې د زیات نفوس اوسیدل.چې دا ټول هوا ککړوي او د ککړې هوا څخه انسانان، حیوانات، حشرات او نورو ژوندي ژوي متضرر کیږي.

د هوا ککړتیا زیات زیانونه له ځانه سره لري چې ځینې په لاندې توگه دي:

۱ – د هوا ککړتیا د طب په لحاظ د راتلونکو بېماریو لامل گرځي : تنفسي، قلبي، عروقي زړه حملی ، د جنین په وده کې کمزورتیا ، تنفسي دستگاه عفونت ، کلمو ورانی ، ټوخي ، سني درد ، د سترگو اوستوني سوزېدل ، کم خونی ، د وینی فشار زیاتېدل ، د مغزوو رانښت عصبي او اروایي گډوډي ، سرطان او ....... کمښت.

۲ – د رواني او روحي بېماریو زیاتوالی.

۳ – جسمي بېماریو زیاتوالی.

۵ – د تردد ستونزې دښاریانو تگ راتگ.

٦ – ژر ژر مړینه خصوصا د ماشومانو ، بوډاگانو او دزړه مرضونو لرونکو افرادو او په پای کې دنورو بېلابېلو بېماریو لامل او آخرکې دمنطقه وي اکوسیستم دله منځه تللوسبب گرځي.

د هیواد د اوسیدونکو او اتباعو څخه په جدي توگه غوښتنه کیږي چې د هوا د ککړتیا څخه ځانونه وساتي.

۳-اوبه :

اوبه د ژوندانه دچاپیریال یو بل مهم عنصر دی چې په قرآن کریم کې د اوبو دضرورت او اهمیت په اړه بې شمیره آیتونه راغلي دي.

اوبه د ژوند لپاره تر ټولو ضروري عنصر دی او ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند په اوبو پورې تړلی دی.

قرآن کریم د اوبو د ضرروت او اهمیت په اړه فرمایي:{وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلا يُؤْمِنُونَ}الانبیاء: (۳۰)

ترجمه: او مونږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پیداکړی دی آیا نو دوی ایمان نه راوړئ؟

امام ماوردي وایي:(حفظ حياة كل شيء حي بالماء).النكت والعيون (۳/ ٤٤٤)

ترجمه: حفاظت د ژوند د هرشی په اوبو پورې تړلی دی.

په یو روایت کې راځي:(كُلّ شيء خلق مِنْ ماء). تفسير ابن أبي حاتم (٩/ ٣٢٠)

ترجمه: هر شی له اوبو پیدا شوی دی.

ټول خلک بلکې ټول ژوندي ژوي په اوبو کې حق لري که چیرې اوبه ککړې او چټلې شي گویا دټولو خلکو په حق تعرض شوی دی.

په حدیث شریف کې راځي:(المسلمون شركاء في ثلاث في الماء والكلأ والنار). سنن أبي داود (٢/ ٣٠٠)

ترجمه: مسلمانان شریک دي په درې شیانو کې په اوبو کې، په گیاه کې او په اورکې.

بناءً د اوبو په ساتنه او حافظت باندې په اسلام کې زیات تأکید شوی دی او په اوبو کې دمتیازو کولو څخه ممانعت راغلی دی. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: لاَ يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ). صحيح مسلم (١/ ١٦٢)

د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي هیڅکله دې یو دستاسې څخه په ولاړو اوبو کې متیازې نه کوي.
ومذهب السلف والخلف أنه لا فرق بين النهي عن البول فيه وبين صب بول فيه ، ولا بين البول والغائط ، وسائر النجاسات كلها . المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم (١/ ٤٩١)

ترجمه: د سلفو او خلفو ټولو علماوو په مذهب کې په دې نهې کې هیڅ فرق نشته چې متیازې په کې وشي یا په کې متیازې واچول شي او په دې کې هم فرق نشته چې متیازې په کې وشي یا غټ بول په کې وشي.

امام قرطبي وایي: دا نهې په تحریم حمل ده سدا للذريعة ځکه چې دا کار د اوبو د چټلولو سبب گرځي.

د اوبو چټلول ناوړه کړنه ده او چټلې اوبه د مختلفو مرضونو سبب گرځي لکه کولورا، لویه تبه، اسهالات، د گردو او د کولمو مختلف مرضونه، تور زیړی او د سږو مرضونه له همدې امله په حدیث کې هغه کس ته لعنتي ویل شوی دی چې داوبو په مواردو کې لوی بول کوي. ( اتَّقُوا الْمَلاَعِنَ الثَّلاَثَ الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَالظِّلِّ). سنن أبى داود (١/ ١١)

ترجمه: ځانونه وساتئ د درې لعنتي ځایونو څخه (یعنی هغه ځایونه چې له امله یې خلک لعنت وایی) ، غټې متیازې کول اوبو ته تلونکو لارو کې  او متیازې کول په منځ د لار کې او لاندې د سیوري څخه .

د اوبو د ککړیدو عوامل زیات دي لکه اوبو ته چټلي او کور او کوڅو چټلي اچول، په اوبو کې پلستیکونه اچول، په کوڅو، واټونو ،د ویالوشاوخوا کې د کثافت ،د تشنابونو او کنارآبونو اوبه او مواد عامو اوبو او نهرونو ته ایله کول ، د کنارابونو په څنگ کې د څا گانو ویستل ، دفني کانالیزاسیونو نه شتون.

داسلام مقدس دین دا ډول فسادونه غندي او داسې کارونه ناوړه کارونه بولي او باید چې زمونږ هیوادوال ددې غیر شرعي زیانمنوونکي کارونو څخه ډډه وکړي.

**د ژوندانه دچاپېریال ساتنې لپاره د ښاریانو دندې:**

بی شکه دهوا ککړتیا کمول د ټولو ښاریانو ګډون ته اړتیا لري نو باید د ښار اونواحیو هراوسیدونکی د ښار او هستوګنځي په پاکوالي ، نظافت کې برخه واخلي ، د کوڅی ، کورشــاوخوا ، عمومي لاروپه پاکولو کې زیاته هڅه وکړي اوپری نږدي چې عمومي او خصوصي میشت ځایونه په پلیتی اخته شي ښکلي شعار ( زمونږ ښار زمونږ کور) څخه په الهام اخستلو د ښاري ژوند تګلاره دی د کورنی ټولو غړو خصوصا ماشومانو ته ورزده کړي ، دټولنیز ګډون اړتیا ته په کتلو لاندې کړنی د یادولو وړدي:

۱ – په کوڅو ، بیالو واټونو غاړو ، واټونو خپل چم ګاوند کې د کثافاتو او پلیتیو نه اچول.

۲ – داونې په ترڅ کې دی د کوڅې اوسیدونکي د خپل چاپېریال پاکولو لپاره حشر (اشر) وکړي.

۳ – د پاڼو او کثافاتو سوزولو څخه دی ډډه وکړي .

۴ - په عمومی لاروکې دی میتیازی نه کوي او لاړی او ګړنګ دی نه غورځوي.

۵ – د اوسیدونکو په هم غړی دی خپله کوڅه کانکریت کړي ترڅود دوړو او خاوروڅخه مخنیوی وشي.

٦ -خپل موټر دی هر وخت له ټولو اړخونو فني معاینه کړي .

۷ – هڅه دی وکړي چې غیر ضروري کارونو کې خپل شخصی موټرونه بهر نکړي او دعمومي وسایطو څخه دی ګټه واخلي

۸ – د سپرلي په موسم کې دی ډیره هڅه وکړي چې خپلې حویلی کې یو نیالګی کینوي چې دځای طراوت او ښکلا ترڅنګ د هوا ککړتیا کمه شي.

۹ – عمومي حمامونو کې دی معیاري نلونه او هوا ویستونکي نصب کړي.

۱۰ – خپلو ماشومانو ته دی هم ور زده کړي چې په ګنو ځایونو کې کثافات و نه غورځوي د هغی ورځی په هیله چې سالم چاپیریال ولرو ! و من الله التوفیق